خبرگزاري میدیا به نقل ازگزارش نمایندگي خویش ازكویته خبرمیدهد كه مجاهدین مومن ولایت هرات بتاریخ ٢٤ر٤ر١٣٧٠ مواضع رژیم كمونستي كابل را در مناطق غرب قلعه ملیكي بین درقه شكیبان ، پل بازارك ، قرقي ومحل لنگرمربوط ولسوالي زنده جان راهدف قراردادند كه درنتیجه ده تن ازملیشه هاهلاك ، هشت تن زخمي، دوعراده موترنظامي ، یك عرداه تانك مجاربوي حریق وراكبین آن همگي به هلاكت رسیدند .

درخبردیگري ازهمین منبع آمده است كه : مجاهدین فرقه حمزه (رض) درهمین تاریخ بالاي كمربند امنیتي شهرهرات عملیات موفقانه یي انجام دادند كه طي آن یك پوسته بنام (پیرپرنده) فتح یكمقدار مهمات ، چند میل سلاح ثقیل ویك پایه مخابره (آر ٥ .١) به غنیمت مجاهدین درآمد .

درراپور ازجانب مجاهدین چهارتن مجروح ذكرگردیده است .

مامه هیروه!

لټون

شهیده وروره ! مامه هیروه ماخودي یادونه دزړه پرتخته لیکلي دي، خوچې ستاله یاده ونه اوځم، زماخوتل په سترګوسترګوکي کېږي، خوچې تاله نظره پري ایښتي ته یم ، زماخودیادونو دنیاګي پر تاودانه ده، خوهسي چي دجنتونو معطر نسیم دي زه له یاده ایستلي یم ، زه خوکه اوس په بېکاره یوازي یم ، خوتل په خیال او فکرکي ته راسره ملګري یې، زه خوچي ستاپرویښو سرو سنګرونوته ګورم، نوهم ته مي رایادېږي او له اوښکوډکي سترګي مي ستالاري څاري، زه خوچي اوس په کوم مجلس کي دمجاهدینو اوسنګرونو په باب ردي بدي اورم، نوزړه مي پرهغوخلکو دستي ګواهي يي، چي ګوندي دوي زمادشهیدوروړله میړنیوااوایماني جګړونه هیڅ خبرنه دي اوښایي که خبرهم وي نوسترګي به پري پټوي، نه ! نه ! دوي خبرهم دي اوسترګي که پټوي نوښم ویلاي ، خولکه هغه دمدیني منافقان زړورشوي دي، اوولې به زړورکېږي نه وروره ! ځکه چي په سنګرونوکي اوس ستاویښو پټ ته ویرکم ځوانان خیال کوي، اونورخوهسي دي لکه چي پردي اسلامي سنګرهدودچاسومن زلمي سپېڅلي وینې توپې شوي نه وي، اوکه داهرڅه دي نودهمده له برکته دي .

وروره ! نن مي دخپلواوښکوپه هرڅاڅکي کي راته ستاویني ځلېږي ، او هغه ستادتکبیرناري مي نن بیاپه غوږونوکي انګازي کوي، زړه مي خولي ته راغلي اواوښکومي پرګرېوان ستادویښو په څېرلکه دناوي کوټهي دوران امیل ګډه وډه لړي جوړه کړي ده .

هوا زماداوښکوهغه څوك نه ګوري اوهغه ستادویښو پرګلابي مرغلرو خودآسمان ملایکي هم شاهداني دي اوولي به نه وي شهیدان خودجنت حوروځینان دي نوڅوك به وي چي دخپل مېن په مینه ګواهي نه ورکوي . اوکه يي په ظاهره نه ورکوي نودخپل ښتي زړه سره به څه کوي ؟

وروره ! نن مي زړه دومره راډك شوي ، وایم چي په چیغوچیغو دریښي وژاړم ، خوبیا مي هغه ستادشهادت شیبه تیغه سترګوته و دریږي ، چي تاوویل چي که ترڅو پوري ژوندي وم زه به فریاد نه کوم اوکه شهیدشوم نوتاسي به راپسي نه ژاړئ، ځکه چي زما دشهادت واکوال ناراضه نه شي اوخپل انعام راته بیرته وانخلي .

وروره ! که هرڅومره زړه راټینګ کړم، اووایم چي بېره نوردي نه یادوم ، نوداخپله بدقسمتي مي سترګوته رامخکي شي، اوله ځان سره وایم چي ووروږمي شهیدشو، ان شاء الله چي دعرش دسیوري لاندي څلوریزه کي يي ځانته ځاي ونیو، اوزه !! زه خودبي اتفاقيو، اختلاف ، ګډوډیو ، خپلسري ، بي عدالتیو ، چغلیو، دسیسه بازیو اونورو امثونو تیاکورونکیو او ګړیو په ګړیو زیاتیدونکیو تیاروکي ایکي یوازي پاتي شوم، بیخي

ایکي یوازي، چي څوك راسره خبري هم نه کوي، اوکه زه چاته څه ووایم ، وایي له دي خبرویغښي داهروخت اسلام، اسلام اوایمانداري، ایمانداري ته اوس څه نه جوړېږي . خلك په څه مزوکي دي او تاراته له ځان خدایږده څه شي جوړکړي دي !؟

آه قلمه ! څنګه دي لیکي کږي وږي کړي، لکه چي نهیلي درته مبکاره شوم ، اوخیال دي وکړ چي آشنا خوراپاندي توریه نهیلي لیکلو پیل وکړ، راځه ته هم ورسره ناغیري شروع کړه .

نه نه ! پام کوه ! چي خیال ته دي څه رانه شي .

هغه زما دورور پرویښو سورسنګرچي لااوس هم تري دالهي کبریاتاري راپورته کېږي !

هغه زمادکوټنوي ور ...نداري اسویلي چي له پولادوسخت زړونه پري ویلي کېږي

هغه زمادیتیم وراره سوي سوي ژړاچي دتن غوبښي اوبه اوبه کوي !

هغه زمادشهید ورور دوزاري خور زړه ریږدونکي سلګي، چي لااوس هم تویانوته زیږوي !

هغه زمادشهید ورور دمورکي ورانه خوله دي هیره شوه ، چي اوس هم دخپل ځوانیمرګ شهید زوي په یادولو دظالمانو خوني وړانوي .

اوهغه زمادشهید ورور یوپلاردي ندي لیدلي چي زمادشهید وروږ دیتیمانو دپالني له پاره پرکروپه ملاپړدي پندونه چلوي اوپرسپینه ږیره يي هروخت خولي اواوښکي یوځاي راروانې وي .

وادي وریدل !! داتولي زماهیلي دي چي يو ورځ به زمادتنلي ملت په باب دالهي رحمت سمندر په څپرکړي اوزمادشهید ورور آرمان به ترسره کړي .

په نیول شوي کشمیرکي دکشمیري اولس

انجنیر تورګل «څمکني» ، ترجمه درېمه برخه

ترآزادي وروسته دکشمیري مشرتابه اوپه ډیلي کي دبرسر اقتدار حکمرانوتاریخ زیاتره په سیاسي مصلحتونو اوهم دکشمیري اولس سره پرخیانت بناشویدي .

پریم نات بزاز یوممتازکشمیري ژورنالست لیکي :" شیخ عبدالله له پاکستان سره دکشمیري اولس له الحاق څخه پوره خبرو، خود ١٩٤٧م کال په اکتوبر کي يي دهندتقسیم څخه وروسته دخپل ګوند ملي کانګرس په مرکزي شوراکي یوه اعلامیه پاس کړه چي دهغي پراساس يي کشمیرله هندسره ملحق کړ ."

دتعادل ساتلو لپاره هغه دخودمختار کشمیر خبره هم راپورته کړي وه . دکیرسپس هیئت ته يي له بندیخاني څخه لیکلي وو:" څرنګه چي دکیرسپس هیئت دریاستونواودلویوحکومتونو دروابطو په باره کي غورکوي، نوموږ داعرض وراندي کووچي دکشمیر اولس دخپل برخلیك وټاکلو اراده کړي ده اوغواړي چي هیئت دي په دي برخه کي دانصاف تقاضاوي پوره کړي ".

خوکله چي هندي قواوي کشمیرته داخلي شوي نوشیخ هم له بندي خاني څخه راخلاص شو اوداکتوبر په ٢٧ نیټه يي ورته اجرائي اختیارات وسپارل شول اوهغه هم په همدي ورځ له هندسره دکشمیرالحاق اعلان کړ .

تردي وروسته د ١٩٤٨ م کال دمارچ په ٢٥ نیټه هغه دنیول شوي کشمیر وزیر اعظم وټاکل شو .

د ١٩٥٠ م کال په اکتوبر کي ملي کانګرس دانتخاباتو غوښتنه وکړه چي يوه قانون جوړونکي اسامبله منځ ته راشي اوهم د ١٩٥١م کال داکتوبر په ١٥ نیټه عام انتخابات ترسره شول .

له پنځه اویاوکرسیوڅخه ملي کانګرس ٧٣ کرسي ترلاسه کړي اود ١٩٥١م کال دنومبر په پنځمه نیټه شیخ عبدالله دوکیلانو په یوه مجلس کي په خپل خطاب کي څلورعمده هدفونه اعلان کړل :

١- دکشمیر لپاره دیوه اساسي قانون جوړول .

٢- دراجاشاهیت په باره کي فیصله کول .

٣- دپخوانیو څمکه والو (فیوډالانو) دځمکو دنیول کیدو دتلافي په مسئله باندي غورکول .

٤- له هند سره دالحاق په باره کي فیصله کول .

له نهروسره د ١٩٥٢ م کال دمعاهدي په رڼاکي شیخ عبدالله وویل چي "د جمو

پاخون

اوکشمیر قانون جوړونکي اسامبله کولاي شي چي دکشمیر اوهنددروابطو په ټاکلو کي قطعي رول و لوبوي اودهند داساسي قانون د ٣٧٠ مادي اویانورو مادو چي له کشمیرسره ارتباط لري په ترمیم کي آخري فیصله ددي خودمختاري اداري په لاس کي ده"

هغه اخطارورکړچي ددي بنیاد بدلول به دکشمیر اوهند دروابطو په لاره کي خطرناك نتایج را منځ ته کړي .

په همدي کال پراجه پریشاد دجان سنګ له نورو هندي فرقوي سازمانونوسره دهندملي کانګرس په مرسته دشیخ عبدالله په خلاف تحریك شروع کړ اودشیخ عبدالله ملي کانګرس يي له ملت سره دخیانت په تورتورن کړ اوله شیخ عبدالله سره چي دخودمختارکشمیر کوم امیدونه هغه يي له منځه یوړاوهم دهندي سیکو لریزم په ماهیت هم ښه پوه شو .

دقانون جوړونکي اسامبلي په افتتاحیه اجلاس کي شیخ عبدالله ویلي وو چي :" ماځکه له هندسره الحاق اعلان کړچي هندزموږ خودمختاري ته په تیرو څلورو کالونوکي په درنه سترګه کتلي اوهمداشان هندیوسیکولرجمهوریت دي چي مسلمانان پکي له هندي اکثریت نه ویره نلري ".

په دي برخه کي پریم نات بزازوایي چي :" هندي نشنلیزم دسیکولریزم نقاب وغورځاوه اوپه خپل اصلي شکل کي منځ ته راغي ، دکانګرس اوغیرکانګرس ، دهندي نشنلستانو اوفرقوي هندوانو په منځ کي اختلافات رفع شول اوهم په رسمي توګه دهندملي کانګرس اودهغه حکومت په حقیقت کي دپراجا پریشاد له اهدافو سره موافق ؤ ."

دعبدالله په ضدمظاهروهغه وخت زورواخیست کله چي شاپه پراساد مکرجي دپراجه پریشاد مشر په ١٩٥٣ م کال دجون په میاشت کي دجمو په بندي خانه کي مړشو .

دابغاوت ددي لپاره پیل شوي ؤ چي مرکز له شیخ عبدالله سره دکشمیر دخودمختاري په باب سازباز وکړي .

په ١٩٥٣ م کال داګست په میاشت کي شیخ عبدالله وویل چي هغه به دوه ورځي وروسته یومهم اعلان وکړي، مګردوه ورځي وروسته مخکي داعلان څخه دخپلي وظیفي څخه برطرف اوهم نظربند کړاي شو .

دشیخ عبدالله ترلري کولو وروسته بخشي غلام محمد چي یونرم مزاجه سړي ودوزیر اعظم په حیث مقررشو اوبیا په ١٩٥٧ م کال د جنوري په میاشت کي دده دوزیراعظمي په دوره کي قانون جوړونکي اسامبلي له هند سره الحاق تصویب کړ .

دپاکستان له خواد سخت اعتراض سره سره ، دملل متحد د ١٩٥٧م کال دامنیت دشورا اعلامیه يي هم ترپوښتني لاندي راوسته . تردي وروسته دقانون جوړونکي اسامبلي حیثیت عملاً ختم شو او ګورنر به دمرکزله خوا ټاکل کیده . په ١٩٦٥م کال دهند ددفاع دقانون په چوکاټ کي بخشي غلام محمد هم له خپلي وظیفي څخه برطرف اوبیا بندي کړاي شو .

بیا دلړوخت لپاره شمس الدین وزیراعظم شو خوپه ١٩٦٤م کال د فبروري په میاشت کي له هندسره دالحاق سخت طرفدار غلام محمد صادق وزیراعظم کړاي شو .

تریولسو کلو بند وروسته بي شیخ عبدالله هم له بندي خاني څخه راخلاص کړ اوکوم تورونه چي په هغه باندي لګولي شوي وو، هغه يي بېرته واخیستل

د ١٩٦٥ م کال د مارچ په میاشت کي يي دشېرم ترمیم پواسطه درئیس جمهور اوصدراعظم پوستونه له منځه یوړل اوعملاً کشمیردهندیوایالت وګرځید .

همدارنګه په همدي کال صادق دکشمیر ملي کانګرس دهند په ملي کانګرس کي مدغم کړ .

تر ١٩٥٧م کال وروسته دمرکز دزیاتي مداخلي په سبب په کشمیرکي ناآرامي په زیاتېدو شوه اوهم صادق خپل ځان له مخکي څخه مضبوط کړي ؤ خومرکزهم میرقاسم تقویه کړچي صادق له پښتوغورځوي، مګرصادق په خپله په ١٩٧١ م کال کي مړشو اودهغه نه وروسته دکانګرس وفادارشخص میرقاسم ته وزیراعظمي ورکړاي شوه .

په ١٩٧٠ م کال کي شیخ عبدالله تراویدي مودي بند وروسته داواقعیت درك کړچي مرکز خورازیات قوي دي، نوپه ١٩٧٣ م کال کي داندراګاندي اوشیخ عبدالله ترمنځ معاهده لاسلیك شوه چي په نتیجه کي په ١٩٧٥م کال دفبروري په ٢٤ نیټه شیخ عبدالله دکشمیر وزیراعلي شو .

په معاهدي کي دشیخ ددي خبري نه بېکاره انکارشوي ؤ چي هغه د ١٩٥٣ - ١٩٧٥ م کلونومنځ ټول تحمیلي قوانین لغوکول غوښتل اودهغه په ځواب کي اندراګاندي په یوه خط کي ورته ولیکل چي :" مورنشو کولاي چي دساعت عقربه پرشاتګ مجبوره کړو ،موږباید حالات په واقعي صورت درك کړو ."

دشیخ عبدالله قاینده افضل بیګ داندراګاندي ته داغوښتنه وکړه چي دهند دانتخاباتو دکمیسیون اختیارات دي پاي ته ورسول شي اوهم دي دهند داساسي قانون په ٣٥٦ ماده کي بدلون راشي چي داپالتي حکومت سره درئیس جمهوردحکومت دنفاذ په وخت کي مشوره وشي، خو اندراګاندي داهرڅه ردکړل .

شیخ عبدالله په ١٩٧٦ م کال کي بیادکشمیر دملي کانګرس مشروټاکل شو. په ١٩٧٧م کال کي چي په هندکي اندراګاندي دجنتاګوند له خوا ماتي وخوړه نوپه کشمیر کي هم مفتي محمدسعید دکشمیردملي کانګرس دحمایت نه لاس واخیست اوغوښتل يي چي حکومت تشکیل کړي، مګر دکشمیروالي ل . ك . جها، اسامبله منحل کړه اواقتدار والي ته منتقل شواوبیا وروسته چي عام انتخابات وشول نودکشمیر ملي کانګرس ، داندراګاندي کانګرس ته ماتي ورکړه .

په ١٩٨٠ م کال کي چي اندراګاندي بیا اقتدارترلاسه کړنو په کشمیر کي يي بیا زاړه فعالیتونه دسره پیل کړل ، اوشیخ عبدالله حکومت يي دفساداودقیمتونو په جګوالي تورن کړچي ورسره سیاسي معامله وکړاي شي .

په ١٩٨٢م کال شیخ عبدالله خپل زوي فاروق عبدالله خپل جانشین وټاکه اوپه خپله بیا د ١٩٨٢م کال دسپتمبر په ٨ نیټه مړشو .

فاروق عبدالله دمرکز پېرتابع ؤ اوهم دکشمیر دوزیراعلي په حیث وټاکل شو .

فاروق عبدالله داپالتي اسامبلي دملي کانګرس وکیلانو ته په خطاب کي وویل چي : دکشمیر ارتباط له هند سره نه شلیدونکي دي اوهیڅوك داجرئت نشي کولاي چي داارتباط ختم کړي .

د ١٩٨٣ م کال په انتخاباتوکي دعوامي عمل کمیټي مشر میرواعظ مولوي فاروق، دفاروق عبدالله سره مرسته وکړه ، اګرچي تردي دمخه يي له یوبل سره يي زیادمخالفت درلود دانتخاباتو دنتایجو تراعلان وروسته دنیول شوي کشمیر ملي کانګرس دفاروق عبدالله په مشري د ٤٧ کرسیو په ګټلو سره ، بیادکشمیر وزیر اعلي وټاکل شو.

دګدایي کچکول په غاړه ګورباچوف مي‌ولید

میاروال

نن سبا خوړله تري اودغي ... اوهوښیار وګړي په دي خبره ښه پوهیدلي چي په شلمه اوداتوم په پیړي کي دوخت ستر داړه مار اوکمونیستي استعمار چي جوړي يي په فکري استثمارباندي غځیدلي وي دافغان مسلمان تنګیالي اوتوریالي مجاهد دمټو په زور هسي دړي وړي شو.

چي که خداي (ج) کړل دادموزیګي کټ به بیا هیڅکله هم نه راټینګ شي اونه هم نوردتینګیدودي.

که څه هم دکمونیستو روسانو چینجتي داړي اودهغوي شوم نیتونه پخپله دروس ملت په وینو سره وه په ګاونډي اسلامي هیوادبخارا کي يي هم هغه نادودي وکړي چي چاپي له ویري ساه هم نشوه کښلاي او دختیځي اروپا په وګړوکي يي هم له وګړو څخه دسورګناوریوځ دځوړیو عملونو له امله چاته دسترګوپورته کولو توان هم نه ؤ او همدغه خونړي عملونه وو چي دروسانو سترګي يي هسي سري کړي وي چي په هرچابه يي وردانګل.

روسي کمونیستو واکمنو دخپلو غلطوایدیاګانو ، پلانونو اودمزدورګوواګیانو په مشوره زموږ په اسلامي هیواد ګران افغانستان هم راودانګل او داپي وېتپله چي ګواکي دابه هم لکه دنوروهیوادونوپه څیر پخپله لوپه استعماري اواستثماري ګېډه کي هضم کړي.اوپه وینو اوهډوکوبه يي دخولي شخوند مات کړي . خوله دي بیخبره وه چي دا پټمن اوغیرتي مسلمان ولس په همدي بڼه هم هغه لوي ګړنګ ؤ او دي ، چي دروس په څېر ډېر اوړنګ اوپرنګ سرماتي اوغاښ ماتي په کي لاتراوسه ورك دي.

روسي کمونیستو مشرانو دخپلو سیاسي ناپوهیو اوبوګي تیریو په لړکي که زموږ مسلمان اومجاهدولس سخت بدمرغه کړله معنوي اومادي ستونزو سره يي مخ کړو، یوه عجنه ،ماته ،شله او ګوډه ټولنه يي چي دویراوماتم غم به يي هیڅکله په سترګو کي وچ نشي په ځاي راپرېښوده خو زموږ د شهیدانو ، معیوبینو ،مجاهدینو،مهاجرینو اوټولو مسلمانووګړوسرښندنه وه چي روسي داړه ماران يي هسي له پښووغورځول چي نورکه خداي (ج) کړل بیا به په تري کي هیڅ چاته په‌برګوسترګو ونشي کتلي .

داړه مارو روسانو وروستني مشرګرباچف چي تريوه حده يي په مؤقتي توګه کمونیزم له حتمي مرګ څخه وژغوره په وار وار دافغانستان په مسأله کي دروسانو مداخله اشتباه ګڼلي له مجبوریته يي دري کاله دمخه په ولادي استوك دا اعتراف کړي چي دري پېښو زموږ په اقتصادي اونظامي ډګرونوکي زموږ ملاماته کړېده .

ګرباچف پخپل اعتراف کي لومړي دافغانستان مساله یولي ، دوهم دچرنوبل ښکته یادوي اوبیا هم دارمنستان دزلزلي کمونو ته ګوته نیسي . خوپه دي تولوکي دافغانستان مسالي دروسانو تانګونه سست کړي اوهمدا خبره وه چي کله دکابل په رژیم کي خربدلي آس بدلي راولي اوکله هم دژینو اویادملګرومکتونو په نوروخبروانرو ځانونه خوشالوي دوي له دي خبرونه یوه پله ګټه اخستل هم غواړي هغوي وايي چي که دامساله اوږدېږي نوسړیږي هم . له بده مرغه چي تراوسه اوپه تیره بیا په دي وروستیو وختونوکي داسلام ټول دښمنان دافغان مجاهد اوټول مسلمان امت په ضدسره یوموټي شوي دي.

همدا نن پرون اورواګوروچي دلویدیځ او" وژل شوي ختیځ" داستعماري ځواکونو مشران دنړي دډېرزوږ،شیطان رژیم انګریزي واکمنانو په مرکزد لندن په ښارکي داووصنعتي هیوادونو دمشرانو غونډه جوړه اوکارپي روان دي . نړیوال خبري منابع څرګندوي چي په دي غونډه کي به دلومړي حل له پاره دروس استعمار اوکمونیستي استثمار واکمن ګرباچف هغه مشرچي نن ورته پخپله دروس دملت په وړاندي هیڅ عزت اواېرونه ده پاتي ، په عملي توګه يي په نړیواله سطحه دکمونیزم ماتي منلي د سوال اوګدایي کچکول په لاس وروسیدلي اوپه دي غونډه کي يي په داسي ټیټوسترګو برخه واخیسته چي له خجالتیاي دجرګي برخه والو مشرانوته هیڅ مخ نه شوورواړولي.

دسرطان په ٢٦ چي د ١٩٩١ کال دجولاي له ١٦ سره سمون خوري میخائیل ګرباچوف دلویدیځ داووستروصنعتي هیوادو دمشرانو په غونډه کي دمکر اوفریب اوښکي توپي کړي اوداپي وویل چي :" ملي ،خیرات موقبول شه یوڅه راواچوي "

هماغه ؤ چي داستعماري ځواکونو مشرانو له خپلي میاني نه دګرباچف کچکول ته دیوڅه وراچولو وعده وکړه په دي کي هم شك نشته چي دغه داستثماري ځواکونو مشران به هرومرو له خپلي میاني نه یوڅه دګرباچف دسوال په کچکول کي وراچوي . داځکه چي ګرباچف اوروسان بیا نړیوال صهیونیزم ته دنړۍ دمسلمان امت په پرتله نږدي دي ، لویدیځوال نور دافغانانو دسرښندنو له برکته له کمونیزم نه ویره نلري، هغوي ته نوردافغان مجاهدینو له برکته دسورخونړي روسي پرځ ماهیت لوځ اوبربند شو ، داپوځ وزته کوم سیال ،ګواښوونکي اوپاوېرونکي ځواك نه دي . دي دواړوته (صهیونیزم اوکمونیزم) ته دېرخطرناك دښمن اسلامي امت اواسلامي جهاد دي نوځکه به ګرباچف غریب ته په کچکول کي یوڅه ورکوي.

که څه هم له یوشمیر وګروسره داویره شته چي روسان به مالي مرستي (پولي کومکونه) په پوځي لاروکي ولګوي خوبیا هم داکار ورته دمسلمانانو په وړاندي غوره ښکاري اوله همدغه امله دي چي اوس دنړي کافران دنړي دمسلمانانو پرضد سره یوځاي شوي اوزیار ګالي په هردول چي کیږي باید هرومرو په اسلامي نړي کي داګاهو اوهوښیارومسلمانانو اودهغوي دپرمختګ مخه دي ونیول شي.

ددي کار له پاره خوروسان شنه ناست دي له یوه پلوه يي دبخارا په څېراسلامي هیواد ګیډه کي پروت دي له بله پلوه يي په اسلامي هیوادافغانستان کي دویراوماتم څپي خوري کړي اوښایي چي داووصنعتي هیوادوسرمشریزي ته هم په دي برخه کي دامر په ځاي کولو سینه ودبوي .

خوموږ افغان مجاهد ولس دي تجربي ته رسیدلي یوچي اوس اوس په ټوله نړي کي د طاغوتي قوتونو اوزځوتوپرضد په هماغوتولنوکي غوځ اوبریالي کیدونکي پاڅونونه پیل شوي نه به ورته په مدرنوسلو سمبال پوځونه په کارشي اونه به هم ورته پرمختللي تخنیك . داځکه چي په پوځ کي هم دهماغي تولني بچیان شته اودتخنیك کارول هم ددوي دلده ده .

موږ باور لروچي که نړیوال صهیونیزم دکمونیزم دژغورني له پاره هغه هم داسلامي امت دځپلو په هیله هرڅومره مرستي ورکړي دغه مرستي به که خداي کول ګرباچف اوکمونستي نظام ته د بقا پرځاي دفناء لاره نور ه هم ښه هواره کړي اولوي خداي (ج) به مومسلمانانوته هسي توان اوطاقت راکړي چي نوردخداي (ج) په مخلوق باندي دظلم ،تیري او وحشت مخه ونیوله شي.

فرداي افغانستان

فدا محمد فایض

آمدن روسهابه افغانستان اسلامي وجنایاتي راکه درین عرصهٔ بیش ازده سال درکشور مامرتکب شدند، چشمدید همه هم میهنان مومن وغیورکشورماست . قربانیهایي راکه ملت شهیدپرورما بخاطر بیرون راندن ارتش متجاوزووحشي روس، ازپاانداختن ابادي فرومایه آنها درافغانستان وقیام نظام اسلامي که آرمان فردفردملت مومن ماېحساب میرود بسرودي مبدل شده است که همه روزه ماآنرا زمزمه مي کنیم و بالاخص مجالس سیاسي ماراذکرهمین قربانیهارنګ وروتق مي بخشد ودراجتماعات بزرګ نیزمطلب اساسي که سخنرانان ماېآن ترکیز مي کنندوسخنراني خودرا بآن رنګین مي سازند، ذکرهمین مطلب است که ماباتقدیم خون یك ونیم ملیون شهید به حضورپروردګارتوانستیم نیرومندترین ووحشیترین ارتش کفري جهان رابزانو درآوریم .

درین شکي نیست که خداوند (ج) انتقام ګیرنده است وانتقام مظلوم را ازظالم مي ګیرد، ماامیدواریم خوني راکه بحضور پروردګار بي نیازتقدیم نموده ایم بحضور ذات کبریایي اش پذیرفته شده باشد ، نه تنها خون بلکه آه مظلومانه ملت ستمکشیده واشك یاس بیوه زنان ویتیمان بیکسي که شوهران وپدران شان بخاطر تحقق نظام الهي درافغانستان عزیزجان هاي شیرین خودرافداکردند . حضرت پیامبر اسلام صلي الله علیه وسلم مي فرمایند که : ازدعاي مظلوم بهراسیدکه به تحقیق بین مظلوم والله (ج) حجابي وجود ندارد . حدیث اقدس پیامبرګرانمایه اسلام صلي الله علیه وسلم به وضوح بیانګر این امراست که دعاي مظلوم به دربارپروردګارمورد پذیرش است پس به بین همین آه مظلومیت ماپودکه خداوند جل مجده روسهاي عظمت طلب را آنقدرذلیل ساخت که علاوه ازمواضع سیاسي ونظامي اینك ازمواضع ایدیولوژیك خود نیزعقب نشیني نمودند چنانچه پیشنهادات ګورباچوف مبني بر ترك اصول مارکسیزم . لیننیزم پذیرش مالکیت خصوصي وترك دشمني بامذهب

به کمیته مرکزي حزب کمونست روسیه که به تاریخ ٢٥ جولاي دایرګردید وبصورت مقدماتي پذیرفته شد وهمچنان اظهارات ګورباچوف درمصاحبه تلویزیوني درلندن حین سفراخیرش به انګلستان که ګفت وي امیدوار فرارسیدن فرصتي است که روسیه ازجانب یك رئیس جمهور غیرکمونست اداره شود . ثبوت بزرګي است براي ادعاي ما. همراه بااین استعفاي اشخاص سرشناس واعضاي بیروي سیاسي حزب کمونست روسیه ازعضویت این حزب جهنمي نیز داراي اهمیت کمي نیست . ادواردشواردنادزي وزیرخارجه اسبق روسیه حین استعفاي خود ازحزب کمونست اظهارداشت که بدون ګورباچوف دیګرهمه افراد معقول، حزب کمونست راترك خواهندګفت درحالي که دیري نګذشته است که اینك ګورباچوف نیزازکمونیزم ګریزان است ګورباچوف حتي مي خواهد نام حزب راعوض کند .بوریس یلتسین رئیس جمهورغیرکمونست جمهوري فدرال روسیه که درانتخابات ریاست جمهوري بااکثریت قاطع پیروز وسمت ریاست آن جمهوریت رابدست آورد فرماني صادرکردکه به اساس آن فعالیتهاي سیاسي حزب کمونست در ادارات ومحلات کار این جمهوریت منع قرارداده شد .

روسیه اکنون باچنان بحرانهاي سیاسي واقتصادي روبرواست که امیدواریم خیلي زود فروپاشي امپراطوري سرخ رامشاهده کنیم .

مابدون شك این سقوط ناګهاني وسریع روسیه را نتیجه وحشتهایي مي دانیم که درهرګوشه وکنارجهان برملتهاي مستضعف وبالاخص افغانستان اسلامي رواداشتند ، به تعبیر حضرت بیدل (رح) :

خون ناحق دست ازدامان قاتل برنداشت
دیده باشي لکه هاي دامن قصاب را

ولي همراه بااینکه روسها بدستهاي پرتوان ملت مومن وخداپرست ماشکست ننګین خوردند ، افسانه طلسم نیرومندي شان اززبانها زدوده شدوحال دیګرجهانیان روسیه را به عنوان روسیه يي که دوازده سال قبل مي شناختند، نمي شناسند .

این سوال نیز دراذهان خطورمي کندکه فرداي افغانستان چګونه خواهدشد؟ این سوالي است که لحظه يي ماراآرام نمي ګذارد وباعث رنجش واذیت فزون ازحدشده است . این سوال نه تنهااینکه به عنوان تعیین سرنوشت آینده سیاسي کشورنزدما مطرح است، بلکه نزدجهانیان وخصوصا نزدکشورهایي که به نحوي ازانحاءبامساله افغانستان علاقه دارندنیز مطرح مي باشد وهریك این مسئله را ازعینك خودنګاه مي کند .

امریکا به عنوان یکه تازمیدان سیاسي ونظامي جهان که بعد از انتظارزیاد به این مقام رسید وبدون شك این ملت غیور ومتدین افغان بودکه روسیه ، یګانه حریف امریکا را شکست داد وامریکا بدون هیچګونه تلاش افتخارکنان امروز بر مسند سیادت سیاسي ونظامي جهان تکیه زد . جریانات سیاسي یك سال ګذشته نشاندهنده آن است که امریکا هرنوع شرایط خودرامي تواند بالاي روسیه بقبولاندچنانچه جریانات سیاسي شرق میانه ازمثال عمده آن بشمارمیرود . یګانه پایګاه روسي که تاهنوز از ګزند امریکا مصئون مانده است کیوباست که شاید درآینده هاي قریب نظرجدي امریکا رابخود جلب کند چنانچه اکنون برسرزبانهاست ودررادیوهاي غربي نیز ګاه ګاهي زمزمه مي شود که فیدل کاسترو بعدازجنرال نوریګا رئیس جمهوراسبق پاناما که توسط نیروهاي امریکا دستګیرشد بزرګترین قاچاقبر هیروئین بشمارمیرود این اشاره ها میرساند که شاید روزي اونیز به سرنوشت نوریګادچارشود .

پس حالاکه امریکا دراثر قربانیهاي ملت مومن افغانستان به این مقام رسید شکي نیست که هرګزحاضرنیست ازنقش خود درتعیین سرنوشت سیاسي افغانستان اهمال ورزد، چنانچه مي بینیم خواسته هاي امریکا وقتا فوقتا ازحنجره سازمان ملل بلندمي شود وعمال خودراکه درصفوف مجاهدین تعبیه نموده است نیزبه تایید ازپیشنهادات سازمان ملل دررابطه باقضیه افغانستان توصیه مي کند .

دلچسپي امریکا درقضیه افغانستان زماني افزایش یافت که دیوار برلین شکست والمان شرقي وغربي یکجاشدند . شکي نیست که المان متحدویکپارچه خاطره تلخ ګذشته را درذهن رهبران امریکا اعاده مي کند . علاوه ازآن المان بزرګترین کشوراقتصادي جهان بشمارمیرود وخصوصا که اثراورا دراروپاهیچګاه نمیتوان نادیده ګرفت . آلمان متحد، آقایي امریکادراروپاراخاتمه خواهند بخشید وامریکا از روزاول وحدت دوآلمان این خواب را دیده است .

حالکه امریکا متیقن شده است که آلمان درساحه اقتصادي حریف سرسخت امریکا دراروپا خواهد بود پس اکنون یګانه منطقه يي که بایدامریکا آنرا ازدست ندهد شرق میانه است . بعد ازآنکه پس بین امریکاوعراق جمیز بیکر وزیرخارجه امریکا پنج باراست که به شرق میانه سفرمي کند تابراي تحکیم نفوذ کشورش درمنطقه راهي راکه درپیش ګرفته است عملي سازد .

امریکا عقیده دارد آنچه که روسیه راباِ این روزبدي مواجه ساخت، اقتصاد ضعیف آن است ورنه اګرروسیه روزي مجال یابد اقتصاد ورشکسته خودرا جان تازه بخشد بازمي تواند مشکلات فراواني براي امریکا ایجاد کند. پس اروپا که درحال نجات ازسیادت امریکا است ومسلما که المان جاي آنرا خواهد ګرفت، شرق میانه منطقه يي است که باروسیه فاصله چنداني ندارد درحالي که

صفحه (٦)

چریکهاي فلسطیني علیه اردوي لبنان حمله نمودند

ګزارشات واصل ازلبنان حاکیست که : درداخل منطقه يي درجنوب لبنان که اسرائیل آنرا منطقه امنیت خود اعلام کرده برخوردهایي بین چریکهاي فلسطیني ونیرو هاي ارتش جنوب لبنان درګرفته است . مقامات امنیتي لبنان میګویند چریکها به مواضع ارتش جنوب لبنان حمله کرده اند ونیروهاي ارتش جنوب لبنان نیز متقابلاً مناطق چریکهاي فلسطین را ګلوله باران کرده اند .درباره تلفات این حادثه هنوز خبري انتشارنیافته است.

دحجرات دسوري په رڼاکي څواخلاقي درسونه

پیغمبرعلیه السلام دتجسس په هکله په متعددو احادیثوکي فرمایي چي دلته به يې ځيني مونږترجمه کړوپوځل پیغمبرعلیه السلام وفرمایل : چي اي هغي ډلي چي په ژبه مو ایمان راوړي خوتراوسه پوري ایمان دستاسو زړونه ته دي داخل شوي، دمسلمانانو پټ اسرارمه لټوي اوڅاچي دمسلمانانوپټ اسرارولټول ، په دې پسي شوترخودهغه پرده څيري کړي اوعيبونه يې بربنډ اوڅرګند کړي، نوالله (ج) به دهغه په عورت اواسراروپسي شي اودچاپه هکله چي الله (ج) ددې اراده وکړه چي پټ اسرارېې بربنډاوڅرګند کړي ، نوهغه به په خپل کورکي هم رسوا کيږي، که دېرستني لاندي په تياره کي کرمه ګناه يې، کړي وي، هغه به هم خداي (ج) بربنډه کړي، يعني چاچي دمسلمانانو عيبونه لټول اوکاريې داوچي دنوروعيبونو پسي وي اوتمامه ورځ به يې يادداشت ليکلي وي، چي دايي غلطي، دايي عيب ، دايي نقص ، دايي خيانت ، دايي ګناه، هغه چي کاريې دغه وي، پس دمسلمانانو عيبونه لټوي اوتجسس کوي نوهغه دې په دې پوه شي چي خداي (ج) به دې رسوا، کړي اودهغه عيبونه به بربنډاوڅرګند کړي، حضرت معاويه (رض) ته پيغمبرعليه السلام فرمايي چي که ته دخلکوپټ اسرارولټوي ، نوهغوي به تباه کړي دهغوي دفسادباعث به شي، يانږدي ده چي هغوي فاسق کړي ، حقيقت داده چي چاکوم عيب ولبده پرده يې پري واچوله ، نوله هغه سړي سره يې مرسته وکړه اوکه دهغه پرده يې څيري کړه ، دهغه حيايي ختمه کړه ، بل ځل هغه داګناه په ډرګند ډول کوي، هغه چي په پټه يې په احتياط کوله داځيل عزت ورته محترم ؤ، . نه يې غوښتل چي په اجتماع کي دهغه اعتبارصدمه وويني ، اماتا چي دهغه پرده څيري کړه اوهغه دې رسوا کړ، پس دهغه حيا ختمه شوله، بياهغه همداګناه څرګنده اوبربنډه کوي، اوپه همدي خاطر پيغمبرعليه السلام حضرت معاويه ته وايي که ته دخلکو پټواسرار وپسي شوي او دادي لټول، خلك به تباه کړي، خلك به فاسق کړي، تيرږدي ده چي هغوي فاسق کړي اوهغه له دي نه منعه کوي، چي دخلکو داسرار و پسي به نه ګرځي همداراز په بل حديث کي راځي چي : "اذاظننتم فلاتحققوا " چي لکه مرګمان وکړتويس تحقيق يې مه کوي، پسي ګرځي مه دېوچاپه نسبت بدګمانه شوي ، تحقيق مه کوي په دې کي څېړنه مه کوي، په همدي حداکتفا وکړي ، دهغه تجسس مه کوي اوددې لټه مه کوي چي دهغه عيبونه تاسوته څرګندشي اوحتي پيغمبرعليه السلام فرمايي چاچي دمسلمان يوعيب وليده يوه پټه ګناه ورته څرګنده شوه اوپه دې يې پرده واچوله داسي ده لکه ژوندي ښځه شوي جلې چي راژوندي کړي ، داالله (ج) په نږددي قدراوقيمت دومره دي، چي يوڅوك دبل په عيب پوه شواوګناه يې ورته څرګنده شوه او پرده يې پري واچوله ، هغه يې رسوانه کړ دهغه دحياپرده يې څيره نه کړه ، هغه يې نوروته بربنډ نه کړنو داسي وګڼي لکه ژوندي ښځه شوي نجلي چي څوك يې ترقبرنه راپاسي داځکه چي يوچاګناه کړي وي ، خونه غواړي چي خلك وريباندي پوه شي، په پټه يې کوي ، اوپه هغه کي دااستعداد لاشته ، داحياپه کي شته اوداګناه ، ګناه ګڼي، که تاپه دې باندي پرده واچوله نودهغه داحيااستعداد دي ژوندي پريښود اوپه همغه کي دااستعداد سالم او روغ رمټ پاتي شو .

اماکه تادهغه پرده څيري کړه داعيب دي بربنډکړ، دا دحيا استعداد دې په هغه کي ختم کړ، بل ځل هغه داګناه څرګنداوبربنډه کوي، په همدي خاطر پيغمبر عليه السلام دېوچاپرګناه باندي پرده اچول له دې سره تشبيه کړي لکه څوك چي ژوندي ښځه کړي انجلي راژوندي کړي . دتجسس دممانعت داحکم يو ازې افرادوته متوجه نه دې بلکه اسلامي حکومتونه هم مکلف دي چي دخلکو تجسس به نه کوي، هغوي ته چي دنهي عن المنکر کومه وظيفه سپارل شوي ددې معني داڼه ده چي هغوي به دخلکوعيبونه لټوي اوداسي جاسوسي نظام به جوړوي چي په خلکو پسي وي اودهرچاعيبونه بربنډوي ، ددې مقصد دانه دې چي هغه به دغسي يودجاسوسي يو جال خوروي، چي هغه لګيادي دخلکوپټ اسراراوعيبونه لټوي اوبيا ددې مطابق هغوي ته سزاورکوي، بلکه اسلامي حکومت مکلف دي . هغه ګناهونه چي څرګنداوبربنډ شي بيادشريعت مطابق هغه ته جزاورکړي اوپه دې کي اسلام دېراحتياط کړي دي اودغسي حدودېې وضع کړي، چي ترڅوګناه کاملا بربنډه نه وي حکومت ددي حق ونه لري، چي څوك ونيسي اومواخذه يې کړي، مثلا دزناپه هکله وايي څلورشاهدان به په دې ګناه ګواهي ورکوي؛ په سترګويه يې ليدلي وي، دادزناقعل به يې دغسي ليدلي وي چي په دي کي به هيڅ شك نه لري .

څلورشاهدان به حاضريږي ګناه به دومره بربنډه اوڅرګنده وي چي څلوروکسانويه په خپلو سترګوداقعل ليدلي وي، له هغه نه بعداسلامي حکومت حق لري، چي دشريعت مطابق هغه ته جزاورکړي .

ددې نه معلوميږي چي اسلام دخلکو په هکله دېوې ګناه داثبات په هکله دېردقيق احکام وضع کړي اوډېراحتياط په کاراچوي ، ځکه ددغوګناهونو دمخنيوي چاره دانه ده چي هرڅوك محاکمه او مجازات شي، بلکي ددغسي ګناهونو دمخنيوي چاره تعليم دي، تربيت دي، دعوت دي، دخلکو روزنه او پالنه ده ، په دې ترتيب ددې عيبونومخنيوي کيدلي شي، يوازي دمحاکمويه ذريعه ددغو عيبونو مخنيوي نه شي کيدلي ، داهم ضروري ده چي کله ډېرڅرګنداوبربنډشي نولهته بيامجازات هم

> دتاريخ دسترو، ستروفتنوباعث همدغه قومي تعصبات اوژبني تعصبات دي څوك يوخاص قوم پوري منسوب دي ترنوروته ځان بهتره اوغوره ګڼي پښتون په تاجك باندي تاجك په ازبك باندي اوعرب په عجم باندي توريه سپين باندي سپين په توربانددي داحساس دبرتري کول، قومي تعصب درلودل داحرام دي اودادجهل نه رااوچت شوي دي دلوېو فتنوباعث ګرځي .

ضروري دي، خواصلي داسلام لارهغه دعوت دي، تعليم اوتربيت دي، دحضرت عمر (رض) يوه قصه په دې باب ډيره آموزنده ده . يوځل هغه دشپې ګرځي يوکورته دسندروغږ اوري، له ديوال نه پورته کيږي ګوري چي يوسړي لګيادي ، دشرابويوتل هم ورته پروت دي اوښځه هم په اطاق کي ورسره ده هغه وريباندي غږوکړچي اي دخداي (ج) دښمنه ته فکرکوي چي په خپل کورکي به همداسي پټ پاته شې، هغه په ځواب کي ورته وويل چي ياعمره ! لږصبروکړه که مايوه ګناه کړي تادري ګناه وکړي .

الله (ج) فرمايي چي دخلکو کورونو ته ددوي له اجازت نه پرته مه داخليږي ، زماداجازت نه پرته داخل شوي، الله (ج) فرمايي چي که کورته ننوځي نوله دروازي نه داخل شي ، له ديوالونوته ، نه ، ته له ديوال نه راداخل شوي يې، الله (ج) فرمايي چي دخلکوعيبونه مه پلټي، تاتجسس کړي ، مايوه ګناه کړي تادري ، نوحضرت عمر(رض) خپل ګناه ته متوجه کيږي نوله هغه ته معافي غواړي خوله هغه نه داعهد اخلي چي بيابه داکارنه کوي، بيابه شراب نه څښي، توله دې نه معلوميږي چي اسلامي حکومت هم ددې حق نه لري حتي که خليفه هم وي، دخلکوپټ اسراردي ځان ته معلوم کړي اودخلکو کورونو ته دې داخل شي ، دچاخط ويل داګناه ده ، دچاتيلفون ته غوږاينبودل داګناه ده ، لکه داواوس چي په داحکومتونو کي معمول ده ، دهرتيلفون له پاره يې ټيپ لګولي وي، ټولې خبري اتري تعقيبوي اوبيا دوه نفره په خپلومنځونوکي خبري کوي، بل ورته غوږنيسي ، له دې نه ممانعت شوي، ته له لري نه ، له بوي ګوښي، له سترګې دکونج نه ورته ګوري اوداولي ددې نه ممانعت شوي دي، داتول په تجسس کي راځي، اسلام مونږ له تجسس نه منع کړي يو، داوضعيف النفس خلکوکاردي اوچي انسان ضعيف النفسه وي، هغه ددې کوښښ کوي، داددوارئوحکومتونوکاروي، په خلکو اعتمادنه لري ، له هرچاويره ساتي، هغسي حکومتونه دجاسوسي يولوي نظام خپوروکړي ، چي دهرچاتعقيب کوي اوپه هرچاپسي وي، خطونه يې لولي تيلفونونه يې تعقيبوي ، اودکورونو داسراورنه يې ځان خبروي، اسلام مونږ له دې نه منع کړي يو، . " ياايهاالذين آمنوا اجتنبوا کثيراً من الظن ان بعض الظن اثم ولاتجسسوا " تجسس مه کوي ولايغتب بعضکم بعضاً " اوله تاسو ځيني دې ځيني نوروغيبت نه کوي، له غيبت هم مونږ شريعت منعه کړي يو، ديوچاپه غياب کي دهغه په باب دغسي څه ويل چي که پري خبرشي په هغه ګرانه تمامه شي، هغه ورنه کرکه لري اوپه دې باندي وځوريږي دې ته غيبت وايي پيغمبرعليه السلام په خپله ددې تعريف کړي دې حضرت ابوهريره (رض) روايت کوي چي پيغمبر عليه السلام دغيبت په تعريف کي وفرمايل چي خپل وروريه داسي څه يادول چي هغه ورنه کرکه ولري ، نوهمداغيبت دي هغه نشته دهغه په غياب کي ته دغسي تبصره کوي، که له دې تبصري نه هغه خبرشي نوهغه پردې باندي ځوريږي خپه کيږي دي ته غيبت وايي ، وويلي شول چي که زه دخپل وروريه نسبت چي څه وايم هغه په ده کي موجودوي په دې صورت کي هم غيبت ده ، پيغمبرعليه السلام وفرمايل ، چي که په هغه کي داعيب موجودوي اوتادلته څرګندکړي وي داغيبت ده اوکه داعيب په هغه کي نه وي داخوبيا تهمت شو، دا افتراء ده ، که په چاکي کوم عيب موجودوي اوته هغه په

غياب کي يادوي، دې ته غيبت وايي اماکه ته په دروغو هغه ته يوعيب منسوبوي داخوبيا تهمت افتراء ده ، په بل حديث کي هم راځي چي له پيغمبر عليه السلام نه يوچاپوښتنه وکړه چي غيبت څه دي، پيغمبر عليه السلام وفرمايل چي داچي يوکس په داسي څه ياد کړي ، چي، که هغه يې واوري توله دې نه کرك جن کيږي ، له هغه نه کرکه ښيي، وې ويل چي يارسول الله وان کان حق که همدالهه چي وايي هغه حق وي نوپيغمبر عليه السلام وفرمايل چي " اذاقلت باطلا فذالك البهتا " که تادهغه په نسبت باطل اودرواغجنه خبره کړي وي نو داخوبهتان دي، ديوچاپه نسبت په غياب کي دروغ ويل دابهتان دي اودهغه واقعي عيبونه دهغه په غياب کي بيانول داغيبت دي، که دافعل په صريحو الفاظو سره وي يايه

اشاره اوکنايه سره وي، په هرصورت کي داحرام دي، که داانسان په ژوند کي وي، يادهغه دمرګ نه بعد وي حرام دي، لکه په يو روايت کي راځي چي دحضرت ماعظ (رض) چي په خپله ګناه يې اعتراف وکړ، زناورنه شوي وه ، رجم شو، دارجم نه بعد چي پيغمبر عليه السلام بيرته راګرځيدودوکسانو خپلو مينځونوکي دحضرت ماعظ (رض) په حصه کي ويل چي داسړي موږنه ليدو چي الله دهغه په ګناه باندي پرده واچوله ، خودهغه نفس هغه پرينښوده ترڅوچي دې حدته يې راورسولوچي دسپي په شان په قتل ورسيده . پيغمبرعليه السلام داخبره واوريدله ، څوقدمه مخکي لاړه هلته يې يو مړحيوان وليده ، تو داواړه يې راوغوښتل کوزشي ، داوخوري، هغوي وويل چي يارسول الله دايه څوك وخوري،

> اسلامي حکومتونه هم مکلف دي چي د خلکو په داخلي چارو کي تجسس به نه کوي ، هغوي ته چي د نهي عن المنکر کومه وظيفه سپارل شوي ددي معني دا نه ده چي هغوي به دخلکو عيبونه لټوي او داسي جاسوسي نظام به جوړوي .

نوپيغمبرعليه السلام وفرمايل دااوس چي تاسودخپل وروريه نسبت څه وويل داتردي نه بدترو يعني دمړحيوان دخوراك نه . دحضرت ماعظ (رض) چي کوم غيبت تاسوکړي نوداترهغه نه بدتردي . ديوچاله مرګ نه بعد دهغه په غياب کي څه ويل په بعضي صورتونوکي شريعت هغه جائز ګڼي ليکن هغه ديوخاص ضرورت په اساس چي هغه ضرورت دغيبت نه پرته نشي توسرة کيدلي، که دهغه غيبت ونه شي ، نوکيدي شي له دې نه زيات ضرراسلام او مسلمانانوته ورسيږي ، داصورت پيغمبر عليه السلام په خپله مستثني کړي، لکه چي فرمايي : چي ترټولولوي سوددېومسلمان په عزت اوابروباندي تيري دي، خو چي په ناحقه ديوچاپه عزت اوآبروباندي تيري کيږي داترټولو لوي سوددي ، رواياتوکي هم راځي چي پيغمبرعليه السلام ته يوه ښځه راغله تپوس يې وکړ، چي دووکسانوماته دنکاح پيغام ليږلي، پيغمبرعليه السلام ته يې مشوره غوښتله ، يوحضرت معاويه اوبل حضرت ابوالجهم و، چون ديوانسان دژوند مسئله مطرح وه ، پيغمبر (ص))بايد داوواړه کسان ښه هغې ته معرفي کړي وای، پيغمبر عليه السلام وفرمايل چي معاويه مفلس دي اوابوالجهم خپلي ښځې زياتي وهي ستاخوښه نوچي هريوکوي، نودداوړو عيبونه يې ورته وښودل ، په دي خاطرچي ديوانسان دژوند موضوع مطرح وه اوراغلي دپيغمبر عليه السلام نه مشوره غواړي، پيغمبرعليه السلام بايد هغه حقايق هغه ته وواين ، همدا راز حضرت عايشي (رض) پيغمبرعليه السلام ته وويل ، يوسړي دروازي ته راغلي دملاقات اجازه غواړي، پيغمبر عليه السلام چي وپوهيدو، فلان کس راغلي، نوحضرت عايشي (رض) ته يې وويل، چي دادخپلي قبيلې ترټولو بدانسان دي، خوهغه پيغمبر عليه السلام دهاندي تشريف يې ووړ، اوله هغه سره يې ډيره ښه معامله وکړه چي کورته بيرته راغې ، حضرت عايشي (رض) تري تپوس وکړ، تاخودوتلو پروخت کي ماته داسي يوڅه وويل، چي لاړي ، له هغه سره دي دغسي يوتيك برخورد وکړ، پيغمبر عليه السلام وفرمايل چي دقيامت په ورځ به دخداي (ج) په نزدترټولو دبداوشرير انسان چي ترټولوخراب مقام به يې وي نوهغه څوك دي چي خلك يې دهغه دبدسلوك په وجه پريږدي اوخلك په دي خاطرله هغه نه

ووه کوي، چي هغه خپل برخورد کي خشن دي، له حدنه تيري کوي اوددي بدبرخورد په وجه خلك هغه ترك کړي ، يعني دمسلمان سره دانه ښايي چي خلکوسره په خپل برخورد کي بدسلوك اختيارکوي که څه هم طرف مقابل يوخراب انسان وي، ځرنګه چي دلته يوه مهمه مسئله مطرح وه ، که حضرت عايشي (رض) داسي ليدلي واي، چي پيغمبرعليه السلام ددي کس سره ډيرښه برخورد کوي اوحال داچي هغه نيك سړي نه دي نوکيدي شي سباله دې يولوي تاوان ورسيږي ، دحضرت عايشي (رض) داسي ګمان و چي دادېر نيك اوصالح اوغوره سړي دي اوپيغمبر عليه السلام ځکه ورسره دغسي يونيك برخوردوکړ هسي نه چي هغه يې ديونيك سړي چي داعتماد وړوي دوغسي يوکس په حيث وپيژني اوسايه هغه باندي اعتماد وکړي له دې نه يومشکل راپيداشي په دې خاطر پيغمبرعليه السلام دوتلو په وخت کي حضرت عايشي (رض) ته داخبره وکړه . همدا رازيه يوځل هنددحضرت ابوسفيان ښځه پيغمبرعليه السلام ته راغله اوشکايت يې وکړچي ابوسفيان ډيربخيل دي اوماالوزما زامنوته دومره څه نه راکوي چي ضرورتونوته موکفايت وکړي . خو پيغمبرعليه السلام دې باندي اعتراض نه دې کړي ممانعت يې نه دې کړي اووايي ګناه ته مه. ګټلي خبري اوريدلي په دې خاطرچي دغسي يوچانه خپل شکايت کول چي انسان ګمان وکړي دهغه شکايت رفع کولي شي داجانزدي . دغيبت څوصورتونه دي چي هغه صورت کي بيا جائز ګڼل کيږي مثلا ديوظالم په خلاف دمظلوم شکايت هغه چاته چي ورته ددې توقع اوامېدکيدلي شي چي داظلم دفع کړي داجانزدي . داصلاح په نيت ديوچاپدي دغسي يوچاته بيانول چي له هغه ددې اميداوتوقع کيدلي شي چي هغه کس اصلاح کړي دهغه روزنه وکړي داصلاح په نيت يوچاته توصيه کول چي په دې کي داعيب ده خودې لپاره نه چي هغه سپك کړي اوتحقيريې کړي بلکه په دې خاطرچي دهغه اصلاح وشي اوداستفتا،

لپاره دمفتي په وړاندي دواقعي اودحادثي صورت حال بيانول اوټول حقايق ورته ښودل ددي لپاره چي له هغه نه استفتا، وغواړي . که په دې صورت کي دچاديوغلط فعل ذکرکيږي مانع نه لري ياخلك ديوچاله شرنه خبرول يوڅوك دبل دقتل اراده لري له قضيي خبروي چي ووره داسړي دقتل اراده لري يادهغه خلکو په نسبت يويله بده اراده لري چي ته غواړي له هغه دشرنه خلك وساتي اوهغوي متوجه کړي په دې صورت کي هم جانزدي يامثلا دېوراوي چي حديث روايت کوي دهغه عيب په ګوته کول چي حافظ ضعيف دئ اويامثال ددې لکه داجرح اوتعديل چي دراوياتو په حصه کي راځي هغوي جرحه کيږي اودهغوي څه دغسي نواقص په ګوته کيږي چي دهغوي په هره خبره بلادرنګ څوك باوراواعتماد ونه کړي اوددغسي خلکو په خلاف علي الاعلان څه ويل چي فسق اوفجورخپروي اوديدعادات اوګمراهي اوبدعت خپروي

> داچي ستاسومورا اوپلاريودي، ديومورا وپلارنه پيداشوي ياست ستاسودخلقت طريقه هم يوه ده دموربلارنه دپيداکيدلو طريقه موهم يوه، خالق موهم يودي موراوپلارموهم يودي پس څنګه يويه بل باندي تفاخرکوي .

اوخلك په فتنو کي اچوي ددوي په خلاف هم غږاوچتول داجانزدي اوکه څوك په بدلقب باندي مشهوروي اوته دهغه دتعارف لپاره له دې نه پرته بله چاره نه وي په دي صورت کي هم جانزدي چي کله ديوچاغيبت کيږي دمسلمان وظيفه داده چي دهغه مسلمان وروړنه چي دهغه غيبت کوي له هغه نه دفاع وکړي که يې دفاع ونکړه الله (ج) به په ده باندي دغسي حالت خامخا راولي چي دفاع ته به اړوي خومدافع به نشي موندلي پيغمبرعليه السلام فرمايي : چي هيڅ څوك داسي نه دي چي خپل مسلمان ورور په دغسي يوموقع اوځاي کي بواځي پريږدي چي دهغه هتك حرمت کيږي اوپه آبروپي تيري کيږي مګرداچي الله (ج) به هغه په داسي ميدان کي يوازي پريږدي چي داالله نصرت اومرستي ته به اړوي غواړي به چي بل څوك دهغه مرسته وکړي اوکه چاديومسلمان وروريه داسي يوځاي کي مرسته وکړه چي په آبرو بي تيري کيږي دده هتك حرمت کيږي نوالله (ج) په دغسي يوځاي کي دهغه دفاع وکړي دهغه مرسته وکړي چي دفاع ،مرستي اونصرت ته به محتاج وي چي کله يو چاغيبت وکړ اودي ته متوجه شو چي داګناه ورته شوي

نولري، وظيفه يې داده چي بايد توبه وکړي اوددي حرام فعل نه ددې نه پس ډده وکړي دوهم فرض دادي چي هغه حتي الامکان داتلافي کړي که هغه مړشوي و .

نودهغه غيبت يې کړي و هغه ته دې ډيره دمغفرت دعاوکړي .

الله (ج) ګوري دې آيت کي يې غيبت له دې سره تشبه کړي چي څوك دخپل مړ وروروغوښه وخوري . " ا يحب احدکم ان ياکل لحم اخيه ميتافکرهتموه

> پيغمبرعليه السلام دغيبت په تعريف کي وفرمايل چي خپل وروريه داسي څه يادول چي هغه ورنه کرکه ولري ، نوهمداغيبت دي ، هغه نشته دهغه په غياب کي ته دغسي تبصره کوي .

"ايا ستاسويوکس داغوره ګڼي چي دخپل مړورور غوښه وخوري له هغه نه کرکه کوي . واتقواالله له الله (ج) نه ووېريږي . ان الله تواب رحيم . يقيناً چي الله (ج) توبه قبلونکي مهربان ذات دي . يوڅوك چي دخپل ځان نه دفاع نشي کولي غايب دي اوته په هغه باندي تيري کوي هتك حرمت يې کوي ابروپي ترپښولاندي کوي دهغه عيبونه بيانوي . دادسي دي لکه چي هغه مړوي اوته يې غوښي خوري آياداتاسو غوره ګڼي چي دخپل مړورور غوښې وخوري دهغه ترغوښي دهغه عزت ورته ډيرمهم دي که يې لاس قطعه کيږي دومره ورته مهم نه دي لکه دهغه آبروچي پامال شي اوهغه په اجتماع کي سپك شي اوتوهين شي په دې خاطر الله (ج) فرمايي چي آيا ستاسو يوکس داغوره ګڼي چي دخپل مړورور غوښه وخوري حال داچي له دې نه کرکه لري له دې نه نفرت لري . واتقواالله . له الله (ج) نه ووېريږي ان الله تواب رحيم . يقينا چي الله (ج) توبه قبلونکي اومهربان ذات دي .

ياايهاالناس اناخلقناکم من ذکر وانثي وجعلناکم شعوبا وقبائل لتعارفوا " اي خلکو يقينا تاسو موپيدا کړي ديونارينه اوښځي نه . وجعلناکم شعوبا وقبائل لتعارفوا . اوومو ګرځولي تاسو قومونه اوقبيلي ټبر، ټبراو قبيلي ، قبيلي . لتعارفوا ترڅويوبل وپيژنې . دادتفاخرلپاره نه دې چي يودبل په نسبت احساس دلويي وکړي بلکه دادتعارف وسيله ده چي يوبل په دې سره وپيژني، عبدالله کوم عبدالله ، صافي، مومند، ځدران ، متکل ، دادتعارف وسيله ده نه ددې لپاره چي يودبل په نسبت تفاخروکړي په دې آيت کي ګوري الله (ج) فرمايي چي اوخوتاسوټول خداي (ج) پيداکړي ياست ستاسو خالق يه . بل داچي ستاسو موراوپلاريودي، ديوموراوپلارنه پيداشوي ياست تاسو

> دغوره والي اودامتيازيوازيني عامل تقوي او پرهيزګاري ده نه رنګ ، ژبه ، قوم او قبيله .

دخلقت طريقه هم يوه ده دموربلارنه د پيداکيدلو طريقه مو هم يوه ده خالق موهم يودي موربلارموهم يودي پس څنګه يويه بل باندي تفاخرکوي . دتاريخ دسترو، سترو فتنو باعث همدغه قومي تعصبات ، ژبني تعصبات دي څوك يوخاص قوم پوري منسوب دي ترنوروته ځان بهتره اوغوره ګڼي پښتون په تاجك باندي تاجك په ازبك باندي اوعرب په عجم باندي توريه سپين باندي سپين په توربانددي داحساس دبرتري کول، قومي تعصب درلودل داحرام دي اودادجهل نه رااوچت شوي دي دلويوفتنوباعث ګرځي اوالله (ج) فرمايي چي اي خلکوا تاسي موپيدا کړي ياست ديونارينه اوښځي نه اوتاسوموټبر، ټبرا وقبيلي ، قبيلي ګرځولي ياست ترڅويوبل وپيژنئ .

ان اکرمکم عندالله اتقکم . يقيناً ستاسو غوره دخداي (ج) په نزدستاسو ترټولو متقي اوپرهيزګاردي . پس دغوره والي اودامتيازعامل تقوي دپرهيزګاري ده نه رنګ نه ژبه نه قوم نه قبيله اواوس که تاسو داپښتواوفارسي وګوري څوپيري دمخه پښتوفارسي يوه وه اوداوس که تاسويه پښتو اوفارسي کي لږ تحقيق وکړي نوبه ګوري چي پښتو اوفارسي کي ډېرکم فرق دي اواساس يې يوه دي يوه ژبه وه منتهي په تدريج سره خلك سره بېل شوي دي بويه يوه دره کي پريوتي بل په بله دره کي، په ژبوکي فرق راغلي که نه انسانان ټول ديوموراوپلارنه پيداشوي دي . ان الله عليم خبير . بيشکه چي الله پوه اوخبردات دي په دي پوهيږي چي په تاسو کي له ټولونه زيات متقي اوپرهيزګارڅوك دي الله (ج) په دي باندي علم لري چي تاسودېو نارينه اوښځي نه پيداشوي ياستي او دتعارف لپاره

تاسويه قبيلو ، قبيلو اوولو، ولوويشل شوي ياست .

قالت الاعراب امنا . اعرابو وويل چي مونږايمان راوړي . دصحرائي شوېو کوچيانوعربويه ټل ددي لپاره چي څه امتيازات ترلاسه کړي نوويل به يې چي مونږ په تاباندي ايمان راوړي اي پيغمبر (ص) پرته له دې ته چي له تاسره جنګ وکړو نورو قومونو له تاسره جنګ وکړخومونږ دجنګ نه پرته تسليم شولوايمان مو راوړ هدف به يې داو چي څه امتيازات ترلاسه کړي دمادي امتيازاتو

دترلاسه کولو په خاطر به راتلل اوهميشه به يې ويل چي (آمنا) مونږ ايمان راوړي اوخپلي سابقي ته يې اشاره کوله او داچي مونږ دجنګ نه پرته ايمان راوړي هدف يې صرف داو چي هغه څه امتيازات ترلاسه کړي . قالت الاعراب آمنا . لکه دااوس چي معمول دي څوك چي پيشنهاد ليکي اول خپله ټوله سابقه وليکي چي ١٣٤٨ کي مي تعهد کړي دي اوداو هغه کاروته مي کړي دي نوپه پاي کي بيا خپل پيشنهاد ته مشخصه اشاره کوي. هغه هم همدغسي ور چي هميشه به بيخپلي سابقي ته اشاره کوله اوويل به بي چي آمنا . غوښتل به يې دخپل ايمان منت اواحسان په پيغمبر عليه السلام واچوي . اوددې په بدله کي څه امتياز ترلاسه کړي . "قالت الاعراب آمنا . قل لم تومنو اولکن قولوا ا اسلمنا" ورته ووايه چي تاسولاتراوسه پوري ايمان نه دي راوړي ولکن قولو اسلمنا .

ووايأست چي مونږاسلام راوړي تسليم شوي يويهتره داده چي تاسودغه خبره وکړي اوتاسومنقادشوي ياست غاړه موايښي تسليم شوي ياست داخبره ده "ولمايد خل الايمان في قلوبکم " تراوسه پوري داايمان ستاسو زړونوته نه دي داخل شوي که ايمان ستاسويه زړونوکي ځاي نيولي وي نوهيڅ کله به مرداکارنه کولو دامتيازاتو دترلاسه کولو به موپيغمبر عليه السلام ته هميشه دانه ويل چي آمنا .

"وان تطيعواالله ورسوله لايلتکم من اعمالکم شيئا " ارکه دالله (ج) اودهغه د رسول اطاعت وکړي نوستاسو دعملونو نه به الله (ج) په هيڅ څه کم نه کړي پاداش به مکمل ترلاسه کوي دنيوي اواخروي پاداش دتاسو دالله (ج) په نزدمصئون اوخوندي دي دعملونو پاداش به الله (ج) ورکوي دايمان پاداش خودخداي (ج) سره دي ستاسي پاداش نه ضايع کيږي په دنيا کي هم په آخرت کي

هم عاقبت دامورهغه سره دي درزق اوروزي خاوند هغه دي په عملونو باندي پاداش هغه مرتبوي ستاسي عملونه دخداي (ج) په نزدخوندي دي دتاسو دعملونوپاداش به الله (ج) نه ضايع کوي دعملونو نه به مو الله هيڅ ضايع نکړي .

" ان الله غفوررحيم " په يقين سره چي خداي (ج) ترټولو مهربان ذات دي يعني له دي نه دمخه چي په دې باب څه ګناه شوي بس له خداي (ج) نه يې مغفرت وغواړي ، الله (ج) بښونکي اومهربان ذات دي تردي ورووسته داکارمه کوي .

"ان المومنون الذين آمنوا باالله ورسوله" خبره داده بله نه ده چي مومنان هغه کسان دي چي په الله (ج) اودهغه په پيغمبر يې ايمان راوړ، "ثم لم يرتابوابيا هغوي شك ونه کړ هيڅ حالت هم په هغوي کي شك راپيدانکړواوه دي ، زړونه يې مطمئن دي په ايمان باندي راسخ دي اوددنيا هيڅ حالت هم ستونزو کړاوونو ، محروميتونو ، محاصري ، تکليفونه ، زنداتونه ، قرباني او ... دهغوي په زړونو کي شك راپيدانه کړ هميشه واوه اومطمئن دي اوهيڅ حالت هم نشي کولاي دهغوي په زړونوکي شك راپيداکړي . "وجاهدواباموالهم وانفسهم في سبيل الله " اوپه خپل مال او نفس سره يې دالله (ج) په لاره کي جهادوکړمومن دادي چي خپل مال اونفس دخداي (ج) په لاره کي قرباني کوي څوك چي په خداي (ج) ايمان لري خپل مال اونفس دخداي (ج) ګڼي نه داچي دايمان په بدله کي څه دنيوي امتيازات ترلاسه کول غواړي اوهميشه په نورو باندي خپل احسان باروي اوخپل منت ږدي، نه بلکي واقعي مومن هغه دي چي په خداي (ج) اودهغه په پيغمبر (ص) يې ايمان راوړ بيا هيڅ حالت هم دهغه په زړه کي شك راپيدانکړدخپل مال اونفس په قيمت يې دالله (ج) په لاره کي جهادوکړ هرڅه يې دخداي (ج) په لاره کي وقف کړل . دايمان تقاضا خوداده که تاسويه ريښتيا په خداي (ج) ايمان

اوراوړلري نوددي تقاضه داده چي خپل مال اونفس دخداي (ج) په لاره کي قرباني کړي . اولئك هم الصدقون . دايمان په دعواي کي ريښتوني همدا په ايمان کي صادقان وي اودايمان په دعوي يې ريښتني اوصادق کسان همدغه دي قل اتعلمون الله بدينکم . هغوته ووايه چي آياتاسوالله (ج) په خپل دين باندي خبروي هغه ته اطلاع وړکوي داچي هميشه راځي وايي آمنا، آمناً مقصد موداوي چي خداي (ج) خبرکړي . والله يعلم مافي السموات ومافي الارض . الله پوهيږي په هرهغه څه چي آسمانونوکي دي اوپه ځمکه کي دي . ستاسوايمان خوله الله (ج) نه پټ نه دي که تاسو دايمان په لاره کي قرباني ورکړي خداي ته څرګنددي ، آيا په دي اظهاراوادعا سره موهقصد دادي چي خداي (ج) خبر کړي ؟ والله يعلم مافي السموات ومافي الارض . حال داچي الله (ج) په هغه څه چي په آسمانونوکي دي اوپه ځمکه کي دي علم لري ." والله بکل شئ عليم" اوالله (ج) په هرڅه باندي علم لري هيڅ څه له هغه نه پټ ندي هرقدم چي چا اوچت کړي هره خبره يې چي کړي دالله (ج) په لاره کي يې چي هرڅه کړي قرباني يې ورکړي زحمتونه اوستونزي يې ګاللي نوهغه له الله (ج) نه پټ نه دي ټول څرګنددي . يمنون عليك ان اسلموا . په تاباندي منت ږدي احسان باروي داچي تسليم شول اواسلام يې راوړايمان يعني عقيده اوجهان بيني اودين دژوند لپاره ضابطي اوژوند انه نظام اسلام يعني ايمان اواطاعت ته عملي اطاعت ته دايمان مطابق ددي نظام اوددي ضابطي منته اواطاعت . "يمنون عليك ان اسلموا " . تاباندي احسان باروي منت ږدي ، "ان اسلموا " داچي هغوي اسلام راوړي .

قل لاتمنوا اسلامکم . ورته ووايه په ماباندي دي دخپل اسلام منت مه باروه بل "الله يمن عليکم ان هدي لکم للايمان ان کنتم صدقين" .

بلکه الله (ج) په تاسو باندي منت باروي چي تاسويي دايمان په لورهدايت کړي که تاسو په ريښتيامومن وي . تاسوبايددالله (ج) ددي احسان مرهون وي ممنون وي چي تاسو ته يې توفيق درکړ اوداسلام اودايمان طرف ته يې هدايت کړي ، که ريښتياتاسودايمان په قيمت اوقدرپوهيږي نوبايد دالله (ج) ددې پيرزوينې مرهون وي چي تاسويې دخپل دين ديوسپاهي په حيث ومنلي په خپل حزب کي يې قبول کړي تاسوته يې دايمان توفيق درکړ، تاسويې هدايت کړي که تاسودايمان په قدرپوهيږي نودالله (ج) ديرزويني مرهون به ياست دخپل اسلام منت به په نورونه باروي . "ان الله يعلم غيب السموات والارض " يقينا چي الله (ج) داسمانونو اودځمکي په پټوغيبوباندي علم لري . والله بصيرويماتعملون اوالله (ج) په هغه څه چي تاسويي کوي بصيراوبينادي ټول ورته څرګنددي ستاسو هيڅ عمل ورنه پټ نه دي ستاسو معامله دهغه خداي (ج) سره ده چي ستاسو دټولو عملونو په نسبت علم لري پوهه لري ګوري اوهرڅه ورته څرګنددي دهغه مکمل پاداش به درکوي هيڅ څه له هغه نه پټ نه دي که په آسمانونوکي دي که په ځمکه کي دي، که ستاسودعمل هره انګيزه ده په دي ټولوباندي عالم دي ستاسو معامله له دغسي خداي (ج) سره ده په دي خاطر دخپل اسلام اودايمان منت په نورومه باروي پاداش له الله (ج) نه وغواړي ځکه معامله موله هغه خداي (ج) سره ده چي ستاسو دعملونو په نسبت بصيردي . سبحان ربك رب العزت عمايصفون وسلم علي المرسلين والحمدلله رب العلمين .

التيماتوم پرعراق باندي د حملي لپاره معيارنه ؤ

سپينه ماني

واشنګټن دزمري ٤ تبته :

دامريکا متحده ايالات وايي چي عراق دملګرو ملتو دپريکړي رعايت نه دي کړي اودخپل اتومي پروګرام جزئيات يې په بشپړډول نه دي څرګند کړي ، دسپيني ماني يونطاق دمتحدينودااقدام په باره کي څه ونه ويل خو څرګنده يې کړه چي دغه التيماتوم ديوځي اقدام لپاره نه وو. هغه وويل چي داالتيماتوم ددې لپاره برمعيارروو چي آيا عراق دښه نيت په اساس اقدام کوي اوکه نه . دغه نطاق پرعراق تورولګاوه چي اتومي تجهيزات پټ ساتي . هغه وويل چي دامريکا متحده ايالات په داخبره يقيني کړي چي عراق دملګرو ملتو دپريکړو رعايت وکړي .

عراق وايي چي خپل ټول اتومي جزئيات يې دمخه څرګند کړي دي

پیام محبوسین رهاشده اززندان کمونیزم به اجیران حل سیاسی

آنگاهیکه دهقانان نابکارجنایت ، کشت جنایت را زرع کردند طماع برآن بودند که شاید این کشت وارونه ، بدوام عمرو سلطنت آن‌هاخواهد افزود .

ویدین گونه روزی چند باعیش وطرب، مستی ومیگساری عمرننگین شان راتداوم خواهند بخشید .

تخم اصلاح شده به رنگ های سرخ وزرد " لینتیسم ومائوئیسم " ازکشورهای روس وچین را واردکشورکردند ودهاقین نابکاری به زرع آن درکشوردست به کارشدند . تاآنکه ریشه های عمیق آن دستگاه ماشینی نظام را درسطوح مختلفه بخودکشانیده ؛بالاخره سلاطین را ازوطن فرار وخود برمسند قدرت حکمراندند .

متعهدین جانثاراسلام چون طوفان پرازخشم ونفرت باحرارت وجذبات چون تموز سوزان وآتشین برای نابودی و رَماد سازی نطفه نابکاران به قیام های حماسه افزای تاریخ دست یازیدند. تاآنگاهی که کفررا نابودکردند "ولی زارعین نفاق وکفرازدور ، به آغوش گرم دستگاه های جاسوسی " تماشاگرصحنه های ریختن،خون، سوختن وویران شدن تن بیماروطن ونوزادانش بودند تاآنکه باحمایت باداران روسی وامریکائی خود درتلاش بقای ریشه ها ونفوذدادن آن درکشورمزیــــی بخون شهدای بیست وسه سال مبارزه فریادهاو واویلاهای حل سیاسی معضله را از دهان های کثیف خودبابی شرمی وبی عفتی زیاد برکشیدند وبرروی کاغذ های باداران خود مهرتائید گذاشتند اما غافل ازآنکه ملت متعهد ومجاهد ، ملت جانثار افغان تا آنگاهی خواهد رزمید که نعره تکبیر آن ها آخرین کاخ جنایات نظام شاهی رادرهم شکنندونظام متین اسلام راکه قیمت خون آنهاست جاگزین آن سازند .

آن ها یعنی مزدوران بقای کمونیزم وعاملین دیروزی کفروالحاد درخواب وخیال حل سیاسی معضله نه بلکه درفکرنجات از محاکم جنایات رژیم کرده خودمی باشند زرعی که بالاخره منتج به ازدست دادن بیش ازیک‌ونیم‌ملیون فردافغان وویرانی کلی کشور ماگردیده است .

ماحتی انتقام خون آن هائی نیز خواهیم گرفت که بعلت نادانی وجهالت درین کشتزارسهیم ساخته شدند . وباطوفان خشمناک انقلابی جهاد ازصحنه بدرکشیده شده اند .

ای ملت بیدارومجاهد افغان !

آیاتخیله های پرسفاهت حل سیاسی آن هاجز برآورده شدن خواسته های سی آی إی و کی جی بی چیزی دیگری هست ؟ این چهره های وفاداربه دستگاه های جاسوسی ، حس غمخواری ملت را از کجا کرده اند . آنگاهی که باداران روسی شان وجب وجب کشور را با اجرای مانورها وآتش های زمینی وبمباران هوائی زیرو رومیکردند ، وآنگاهی که ملت مظلوم افغان ، آواره دشت هاوبیابان های سوزان کشورهای همسایه گردید. وهرروز صدهاکودک وطفل خودرا درنتیجه گرمای طاقت فرسادفن می کرد این غمخواران فضلا وعلمای دیرین کجابودند ؟ چرا سربرفی افراشتند وحرفی بزبان برفی آوردند مگرآنجا...

اماوگر دیرشده است دگرملت باچهره های سیاه ومنفورکه خودرا افغان قلمداد می کنند آشنا شده است ملت ما آگاهست که این غمخواران روزمزد درهمهٔ حوادث ملت را تنها گذاشته وخودبه پناگاه های سی آی ای وکی جی بی پناهنده شده اند وجان سلامت بدرکشیده اند . وآیاملت ما آگاه نیست وخبری ندارد که این غمخواران اجیرهمین‌حالا درآغوش پرمهرکی ها قراردارند .کی ها اند که این چهره های فراموش کرده شده را به روی صحنه درمی آورند وازآن ها تمجید وقدردانی می نمایند ؟آیاجز روس وامریکا وآنانیکه دست اندرکاران جنایات جهانی بخصوص درمقابله با اسلام شمرده می شوند کسانی دیگری اندکه آن ها رادلسوختگان برمهر، خوبتر ازمادر تعریف بدارند،

ملت مانمی خواهد تاجلادان دیروزی، زارعین کفروالحاد باردیگر بیایند وبرخون شهدای گلگون کفن جهاد تخم کفروکمونیزم بکارند بلکه خواست ملت مجاهد مان آن است تااین ها بمثابه تهداب گذاران وجنایت کاران اصلی چنین فاجعه بزرگ یعنی هرفرد نظام شاهانه که به نوبه خودش خائن تراز دیگری است محاکمه شوند وباتطبیق حکم انقلابی محکمه اسلامی ثمره کشت خودرا بدروند چون گفته اند که : کشت را درواست .

مازندانیان رهاشده ازچنگال وحشی کمونیزم که بنابرجبروظلم بی حدکمونیستها اکنون تحت تداوی قرارداریم بنابرمطالب فوق پیام ذیل را صادرمی نمائیم :

الف : به رهبران گرانقدرجهادی کشور !

۱ - برادران گرانقدر ، سپه سالاران واامامان جهاد اسلامی افغانستان !

